# واصل روښاني او د عمليت پسندۍ د فلسفه

**Dr. Asal Marjan (Muhib Wazir)***

**ABSTRACT:**

Pragmatism is a formal philosophy derived from the thoughts of Charles Sanders Peirce, William James and John Dewey. It considers language and thought as a means of prediction and solving of problems and against formalism and abstractionism and it is related to the philosophy of action to improve and protect the human life in this universe.

In this article, firstly, presented complete definition and introduction of the pioneers of this philosophy. After that, various elements of this philosophy has been drawn from the poetry of prominent Pashto poet of Roshani Movement Wasil Roshani and discussed with the help of secondary sources. In the end, it has been explained that there are excellent examples of Pragmatism in Wasil`s poetry.

**Key Words:** Pragmatism, Philosophy, Human, being, Formalism, Abstractionism, Pashto, Poetry, Roshnai, Movement, Wasil Roshani,

- **پېژندګلو: عمليت پسندي:**

د انګرېزۍ ژبې **(Pragmatism)** ژباړه په اردو او پښتو کښې په عمليت پسندۍ کېږي. ځينو ځايونو کښې د پايليت (نتايجيت) په ټکي هم کېږي"(۱).

عملي **(Pragmatic)** ټکے په انګرېزۍ کښې د شپاړسمې پېړۍ نه راروان دے چې د فرانسوي ژبې په لاره د يوناني ژبې نه راغلے دے. د يوناني ژبه کښې د **Pragma** معنا د کاروبار او عمل ده"(۲).

عمليت پسندي يو فلسفيانه روايت دے چې ژبه او فکر د پېشګويي، د ستونزې هوارۍ او د عمل وسيلې **(Tools)** په توګه پېژني، په ځاى د دې چې تش د حقيقت بيانولو، د نمائندګۍ کولو يا د هغې تصوير پېش کولو ته کار

* Assistant Prof, Pashtoonkhwa Mutaleati Markaz, Bacha Khan University, Charsada.

ووئیلے شي. عملیت پسندي د حقیقت په لړ کښې د رسمیت **(Formalism)** او تجریدیت **(Abstractionism)** په ضد خالص د عمل سره اړونده د فلسفې یوه څانګه ده او په دې خبره غور کوي چې زمونږ د عملونو په پایله کښې چې زمونږ نړۍ څنګه په هره ورځني بنیاد بدلېږي"(۳).

په هغې کښې نور د انساني ژوند امکانات څنګه پېدا کېدے شي. دا د یوې عقیدې د جاج اخستلو په اړه د یوې عقیدې د لرلو په عملي پایلو (نتیجو) زور راوړي. د غرب د روایتي فلسفې مابعدالطبیعاتي تصوراتو او د علمي اړونو (معمو) نه د ساتنې د هڅو (کوششونو) په ترڅ کښې مخې ته راغلې د فلسفې یوه څانګه ده. کومو کښې چې فلسفیانه صلاحیتونه او توانایي د نۀ هوارېدونکو ستونزو په اړه په لاحاصلو بحثونو کښې ضایع کېږي. د دې په ځای عملیت پسندي د رښتینوالۍ عملي نظریات مخې ته راوړي چې د محسوس شوو حقیقي پرېشانۍ او ستونزو د حل لارې چارې ګوري"(۴).

عملیت پسندي په بنیادي توګه د چارلس سېنډرز پېئرس **(Charles Sanders Peirce-۱۸۳۹-۱۹۱۴)** نه ماخوذ فلسفه ده چې د عملیت پسندۍ پلار هم ګڼل کېږي. د دوي په خیال چې هر کله یو څوک ټول تفهیم لرونکي شیان یا تجرباتي مظاهر پېژني چې اثبات یا انکار یې د یو تصور سره ترړي، نو مقصد دا شو چې هغه (کس) د هغه تصور په تعریف او مفهوم خبر دے او بس په دغه ورته اکتفا پکار ده، نۀ چې د لاحاصلو مباحثو په چکر کښې پرېوځي. د پېئرس په ټکیو کښې داسې وئیلے شو چې یو انسان د خپل تصور د څیزونو/مظاهرو په عملي اثراتو غور و کړي، د هغو اثراتو په ترڅ کښې پېدا شوے د انسان تصور مکمل تصور دے"(۵).

د عملیت پسندۍ په اړه دویم معتبر نوم د ویلیم جېمز **(William James-۱۸۴۲-۱۹۱۰)** دے چې پېژندل شوے نفسیات دان ؤ، ځکه دوي د عملي فکر په ذاتي توکیو باندې زور راوړي. د دوي په خیال یو وګړے چې کله په ذاتي ژوند کښې د کومو ستونزو/کړمو، فلسفیانه یا صوفیانه وسوسو/ پېچیدګیو یا مخصمو سره مخ وي نو عملیت پسندي د هغۀ په دغه مشکلاتو باندې قابو موندلے شي. د عملیت پسندۍ په لړ کښې دریم مهم نوم جان ډېوي **(John Dewey-۱۸۵۹-۱۹۵۲)** دے، چا چې دغه فلسفه په تعلیمي، ټولنیزو

او سیاسي لارو چارو کښې کارولو باندې زور راوړے دے. د اولس/قام/ټولنې شریکې پخوانۍ تجربې، دلیلونه او مجرد حقیقتونه یا رښتینوالۍ بیانولو په ځای په لمحه موجود کښې د خپل راتلونکي (مستقبل) په اړه داسې تګلاره مرتب کول چې د هغې په پایلو هم د دوي نظر وي"(۶).

هر رنګه رښتیني او حقیقت په خلاص مټ قبلول حقیقت پسندي ده او د دغه حقیقت پسندۍ په ترڅ کښې ترلاسه شویو پایلو په رڼا کښې د ګټورو (مثبتو) مقصدونو د پاره یو خیال راوړل، یوه نظریه وړاندې کول او یوه تګلاره (پروګرام) مرتب کول او هغې ته عملي شکل ورکول عملیت پسندي وي"(۷). د مثال په ډول دا حقیقت پسندي ده چې د ډیورنډ کرښه اچول شوې ده، څوک مني یا نهٔ، خو دا اوس حقیقت دے. د دې پایله دا شوه چې پښتانهٔ په مینځ تقسیم شول، د پښتنو ترمینځه ژبني، کلتوري او قامي ستونزې راپورته شوې دي. اوس د عملیت پسندۍ غوښتنه دا ده چې داسې نظریه او تګلاره خپلول چې تقسیم شویو پښتنو د ستونزو په کمولو کښې عملي کردار ؤ لوبوي.

د دغه ټول بحث نه مونږ دا پایله ته رسېدے شو چې د غوره او ګټوره پایلو د ترلاسه کولو د پاره د سترې او پخې ارادې، تدبر او سخت کړاو سره مثبت او اصلاحي اقدمات او طریقې خپلولو سره عمل او عملي ګامونو اخستلو ته عملیت پسندي وایي. په نورو ټکیو کښې عملیت پسندي د نظریې، یقین یا تصور په ځای داسې عمل یا پالېسي خپلول/تیارول چې د بشپړه تجزیې، غور او فکر او د عمل په تناظر کښې د هر قسمه حالاتو په ترڅ کښې راتلونکو پایلو په اړه پکښې ښکاره نشاندهي موجوده وي. یعني دا یو داسې خیال، کلیه یا اصولو ته وایي چې ګفتاري نه زیات په عملي بڼه مخې ته راځي. دا فلسفه وګړے/ قام/ هېواد د ماضي پرستۍ او روایت پرستۍ نه ووباسي او د عصر په هر بدلېدونکي ساعت یې نظر دروي او د پېښېدونکیو پېښو سره یې تړي او د ژوند تېرولو په ځای یې ژوند کولو ته اماده کوي او د مایوسۍ په ځای یې هیله/امید سره اړونده ساتي"(۸).

د عملیت پسندۍ په ترڅ کښې تر ټولو اهمه خبره داسې کولے شو چې دا محض په رښتینوالۍ اډانه خیالات یا تصورات یا نظریات نهٔ مني بلکې په عملي توګه به د نړۍ د بدلولو جوګه هم وي.

**د واصل روښاني شاعري او عملیت پسندي**:

د واصل روښاني (۱۵۸۲ـ ۱۶۵۸)"(۹). یا د روښاني تحریک سره اړونده شاعران د اوسنیو فلسفو یا نظریاتو په ترڅ کښې نۀ دي لوستل شوي. د نوې فلسفه سره د دوي د شاعرۍ نوے تعبیر مخې ته راتلے شي، نوې معنې راوړے شي او نوي مفاهیم ترې اخذ کېدے شي چې زړو مفاهیمو ته یې بېخي نقصان هم نۀ رسېږي. د واصل دا لاندې شعر چې ممکن بل کوم محقق یا نقاد په بله زمره کښې هم مطالعه کړے وي خو دلته د عملیت پسندۍ په ترڅ کښې لوستل کېږي.

که صفي ادم یـې ؤ ویست له بهشته
په تشریف یې دا خاکي جهان ګلشن که
(د واصل روښاني دیوان:۷۸)

صفي چې د ادم علیه السلام لقب دے او معنا یې پاک سپېڅلے ده. دا یو ستر حقیقت دے چې د مذهب له پلوه د ټولو د پاره د قبولیت حد ته رسېدلے دے چې ادم (انسان) د جنت نه ویستلے شوے دے، یعني د ارام او سکون ژوند وربانديې تنګ شۀ نو که انسان چرته خپل ځان تش هغه شاندار ماضي پسې ژړلو ته وقف کړے وے نو دلته به یې هېڅ پرمختګ نۀ وے کړے. خو د واصل په خیال انسان د عملیت پسندۍ مظاهره کوي، د هغه حقیقت په ترڅ کښې د کوم صورتحال (یعني تکلیفاتو) سره چې انسان مخ شو، د هغې نه یې ځان ځنګه په خپل عمل را وویستلو او دا جهان یې ځان ته لکه جنت جوړ کړو. دلته ماته د جاوېد احساس شعر را یادېږي:

دې له جنت ویستي انسان له خو غېرت پکار ؤ
په دغه زمکه خو په هر صورت جنت پکار ؤ"(۱۰)

دلته د جاوېد احساس شعر د عملیت پسندۍ په مقابل کښې د روماټسسزم/ تصوراتو جهان وړاندې کوي یا پېغورجنه لهجه لري. خو د واصل شعر مطلقه عملیت پسندي وړاندې کوي. د ځان د پاره لاره ویستل یا ځان له جنت جوړول هم کومه اسانه خبره نۀ ده، دا خالص د عملیت پسندۍ د فلسفې په اساس ممکن کېدے شي:

چې اول اخـر هغه دے :: دا د ځان خودي مشکله
نن دنیا پرون ازل ؤ :: او د ګـانده نامـه بله
(د واصل روښاني دیوان:۸۳)

په دې دومره لویه دایره کښې چې اول هم خدای دے او اخر هم خدای دے، د خپل ذات او ځان پېژندګلو/تعارف (شناخت) پېدا کول یا جوړول صرف د عملیت پسندۍ د فلسفې په ترڅ کښې کېدے شي. وروستي شعر کښې واصل د حقیقت نګارۍ ځومره په زړۀ پورې او اعلانیه خبره کوي، پرون تېر شوے دے او د سبا به بله نامه وي خو نن په دې جهان ژوند کول دي او د عمل په فلسفه باندې ځان تلل دي.

د واصل یو بل ځای وایي:

په جهان کښې هېڅ صورت بې سایه نۀ دے
هغــه مخ چــې مونده نۀ شي زۀ یې پل یم
(د واصل روښاني دیوان:۹۱)

د عملیت پسندۍ یوه داسې کوټلې نمونه وړاندې کوي چې د کلام (علم الکلام) د اصولو تر مخه خپله کوټلتیا ثابتوي. دلته یو حقیقت مخې ته راځي چې د لاادریت، ورکه یا نۀ شتون په ترڅ کښې یې علمي نړۍ پېژني چې انګرېزۍ کښې ورته **Agnosticism** وایي. یعني هغه عقیده چې د حقیقت ادراک ناشونے ګڼي یا د حقیقتونو/څیزونو/مظهرونو د لاعلمۍ منونکي دي (۱۱). ځینې خلق یې د تشکیک په معنو کښې هم اخلي چې د حقیقت یا څیزونو په اړه خپله رایه خو وړاندې کوي ولې د هغې په لړ کښې د تشکیک سره هم مخ وي. دا فلسفه سمه ده یا ناسمه، خو د علمي نړۍ یو حقیقت دے. پورتني شعر کښې واصل د دغه نظریې په رد کښې یو زورور استدلال راوړي او د لوستونکي په وړاندې خپل ځان د مثال په توګه وړاندې کوي. په څیزونو، تصوراتو یا نظریاتو د یقین نۀ کولو په صورت کښې انسان څومره د بې یقینۍ سره مخ کېږي، څومره د ناامېدۍ ښکار کېږي، څومره د مایوسۍ سره اړونده کېږي، د دغه ټول صورتحال نه د کلهم انسانیت د راویستلو د پاره واصل خپل ځان وړاندې کوي او انسان ته د عملیت پسندۍ درس ورکوي. د عملیت پسندۍ یوه بله نمونه یې دا هم ده چې د عقل مندو او هوښیارو خلقو د عمل او کړنو په ترڅ کښې یې بیانوي:

د اصیل سړي له بدې چارې عار شي
د رموز اهل به چېرې په کنار شي
د هوښیارو روزګار واړه په رموز دے
د رموز اصل به چرې ګناهګار شي
(د واصل روښاني دیوان:۱۰۳)

هر څو که دا اخلاقي عملیت پسندي ده چې د ټولنې په روایتونو اډانه ده. خو دا اخلاقیات هم د ټولنې د فلسفې پېداوار وي. که دا عملیت پسندي نهٔ وي نو د ټولنې ساخت کښې درزونه پېدا کېدے شي یا به دا ووایو چې د ټولنې ساخت هډو امکان نهٔ لري. هغه هر وګړے چې په رموز ژوند تېروي او خپل عملیات په وړاندې بیایي، یوازې د ځان د پاره خېر نهٔ لټوي، د تمامي ټولنې په خېر هم تمامېږي. دلته چې څنګه د اخلاقي عملیت پسندۍ یادونه ؤ شوه، دغه رنګه د انساني ژوند په هر اړخ ځان له د عملیت پسندۍ اطلاق کېدے شي. د واصل دا لاندینے شعر لولو:

په اسمان پورې د زمکې حساب کښلے
په ادراک یې مخلوقات صاحب کمال دي
(د واصل روښاني دیوان:۱۱۷)

دلته واصل په ادراک زور راوړي، په پوهه او شعور زور راوړي. انسان په زمکه پېدا شۀ خو د اسمان ادراک، پوهه، شعور او علم د انسان ژوند ښایسته کولے شي، جوړولے شي، خوندي کولے شي او کمالات ترلاسه کولے شي. په زمکه پېدا کېدل یې اولنے حقیقت دے او په زمکه موجودې ستونزې یې دویم حقیقت دے او د اسمان (اسمان که د خدای یا عرفان په معنو کښې ولوستے شي یا د طبیعات په معنو کښې ولوستے شي، معنا یې یوه راځي) زده کړې او شعور د حقیقتونو په ترڅ کښې د راولاړو شوو ستونزو په کمولو او هوارولو کښې ډېر لاس کولے شي. نو ځکه دلته د علمي عملیت پسندۍ نظریه وړاندې کوي. د دغه علمي عملیت پسندۍ په اړه یو بل شعر:

د عارف تعریف د علم په انداز دے
صفت چرې تر چا زیات شي تر چا کم
(د واصل روښاني دیوان:۸۸)

د علم په اندازه د عارف/ باخبر/ دانشور قدر معلومول، یعني د معاملې، کشالې، ستونزې، حالاتو او موضوعاتو په اړه د پوهېدنې خبره کوي. دا علمي عملیت پسندي د شخصیت پرستۍ، ایډیالزم او مطلقیت څخه انسان رابهر کوي او د تحقیق او دعوې/تهیسز (صفت یا تعریف) د رښتینوالۍ او د حقیقت د نوعیت په لړ کښې یې د مابعدالطبیعاتي بحثونو نه را وباسي او د کوټلې او حقیقي نړۍ د ستونزو عملي تفهیم ته یې توجه راګرزوي"(۱۲).

فلسفه څه داسې مېدان ښخې نهٔ دے چې خامخا دې پکښې لوړ خیالات مخې ته راځي، بلکې ډېر عامیانه او عام فهم موضوعات هم که په فلسفیانه انداز ؤ څېړل شي نو مطلوبه معناوې ترې لاس ته راځي. د مثال په ډول د واصل لاندینے شعر:

زهٔ چې مینه د یار یاده په بار بار کړم
څوک د دهٔ په ښایست نهٔ شته چې یې یار کړم
(د واصل روښاني دیوان:۸۸)

ښایست وړومبے حقیقت دے او د ښایست سره تعلق، مینه او محبت یو بل حقیقت دے او د ښهٔ نه د ښهٔ لټون بیا یو بل حقیقت دے. د دې ټولو حقیقتونو د بیان نه پس چې واصل د کوم کېفیت سره مخ شوے دے. یعني د بل غوره ښایست د نهٔ شتون یا نهٔ موندلو کېفیت، نو بیا د عملیت پسندۍ مظاهره کوي چې هر کله بله لار نهٔ شته، بله چاره نهٔ شته، بل رو ګودر نهٔ شته نو په داسې صورتحال کښې د هغه یار مینه یاد ساتل هم غوره ګڼي. د دغه خیال سره اړونده یو بل شعر کښې وایي:

چې د ستا مهر مې و کوت تر ځان تېر شوم
اوس تر خپله ځانه زیات مئین په تا یم
(د واصل روښاني دیوان:۸۶)

د محبوب سره د عشق پخلے او دعوا کوي، خو په خیالي توګه نهٔ، په تصور کښې نهٔ، په خوبونو کښې نهٔ، بلکې په غړېدلو سترګو، یعني کله چې د محبوب مهر و ګوري، ګویا د عشق په شان یو جذباتي تړون هم د حقیقت په ترڅ کښې بیانوي او دوه اړخیزه عشقیه تجربه په ګوته کوي چې د عملیت پسندۍ تر دې

غوره نمونه به نوره څه وي. عملیت پسندي خو هسې هم په تجربه اړانه ده خو د واصل روښاني دغه شعر بیا څه بل ډول تجرباتي اساس لري:

د رښتــونـي محبت علامــه ګوره
په یوه قطره د درست دریا بیان کړم

(د واصل روښاني دیوان: ۹۰)

ښخي داسې لکه لیبارټري کښې د یوې قطرې د وینې په ترڅ کښې د یو انسان د ټولې وینې یا د انسان د ټولو ناروغیو اندازه و لګولے شي. په ټولنیزه توګه که دا شعر ؤ لوستے شي نو د عملیت پسندۍ دغه اړخ هم پکښې پټ دے چې د ستونزې تل ته کوزېدل پکار دي، ټولنه او ماحول او نظام داسې پېژندل پکار دي چې د یو وګړي (فرد) د نفسیاتو د مطالعې نه د تمامي ټولنې/ماحول/نظام پېژندګلو یقیني کړے شي. دا د ټولنیزو نفسیاتو د عملیت پسندۍ یو تجرباتي انداز دے چې واصل یې بیانوي. په دغه لړ کښې یې دا شعر هم وړاندې کېدے شي:

ګل له خپلې خوشبویيه خبر نۀ دے
په ناکام به قدم کښېږدي بې دماغه

(د واصل روښاني دیوان:۷۵)

هر کله چې انسان د خپل ذات (نفسیاتو) څخه خبر نۀ وي یا د ماحول او ټولنې د روح سره واقفیت نۀ لري نو هغه چرې هم عملیت پسند نۀ شي واقع کېدلے. هغه یوه سمه او کوټلې فیصله هله کولے شي چې د خپل ذات او ټولنې د ستونزو، کړمو، حالاتو، علم، صلاحیتونو نه خبر وي او که یو څوک دا هر څه نۀ پېژني نو د واصل روښاني په خیال:

عبــادت یــې نــه قبلېــږي :: غلط کړے یې محراب دے

(د واصل روښاني دیوان:۱۱۷)

چا چې محراب غلط کړو، چا چې حقیقتونه و نۀ پېژندل، چا چې د حقیقتونو په ترڅ کښې پېدا شوے صورتحال و نۀ پېژندو، د هغۀ عبادت چرې هم نۀ قبلېږي، د هغۀ محنت بې ځایه دے، د هغۀ مبارزه ناکامه ده. د خواري کولو یا مبارزې کولو د پاره سمه او کوټلې پرېکړه ډېره مهمه وي او سمه او کوټلې

پرېکړه تل د زمان او مکان د پېژندګلو نه پس امکان لري. په قیاساتو او اندازو پرېکړې کول او د هغې په ترڅ کښې خواري/ محنت/ مباره کول ګټه نۀ شي راوړے. د دغه زمان او مکان او د شعور او ادراک د پېژندنې په اوان کښې د راتلونکي زمان او د یو نوي مکان پېشګویي کوي او د کائنات د پرمختګ یا د علم د پرمختګ د عملي شعور ثبوت ورکوي:

دهقــان لــږ تخــم کرلــے :: لاېې ډېر هنر مکتوم دے

(د واصل روښاني دیوان:۱۱۷)

دا کوم څه چې مونږ وینو یا زمونږ په وړاندې راغلي دي، دا ډېر لږ دي، دا ډېر معمولي دي، دا ډېر مختصر دي او نۀ په دې لږو/معمولي بس کېدل پکار دي. د دې نه بېخي ډېر زیات لاپټ دي، پنهان دي چې د انساني علم او ادراک او بیا د عملیت پسندۍ په فلسفه د عمل کولو نه پس دغه پټ/پنهان ډېر څه رابرڅېره کېدے شي او زمونږ دا ښایسته جهان ورباندې نور زیات ښایسته کېدے شي او دغه د عملیت پسندۍ د فلسفې بنیادي توکے هم دے چې انسان باندې کوم کوټلي تصورات ور و نۀ تړومبل شي، باید انسان خپلو صلاحیتونو او خپلو ګټو ته د کتلو په اساس ازاد پرېښودے شي، ځکه چې د عملیت خوښوونکیو په خیال تصوراتو ته کوم مطلقیت ترلاسه نۀ دے. تصورات د چاپېرچل او د انسان د وړاندې وروستو (سیاق او سباق) حالاتو سره بدلېدے هم شي"(۱۳) او په دغه وجه انساني ژوند او کاینات نور ښایسته کېدے هم شي او د روښاني تحریک دې نوموړي شاعر (واصل روښاني) هم په خپله شاعرۍ کښې د دغه فلسفې په زړۀ پورې ترجماني کړې ده.

# حوالې

(۱) یاسر جواد، نظریات کی تاریخ، جہلم بک کارنر، جون ۲۰۲۲، ص:۱۹۹

(٢) Robert K. Barnhart, Barnhart Concise Dictionary of Etymology, H. W. Wilson Company, United State of America, ISBN No: ٠-٨٢٤٢-٠٧٤٥-٩, ١٩٩٨, p.٨٢٦

(٣) Barbara Simpson, Pragmatism: A Philosophy of Practice, Volume ١: History and Tradition, Strathclyde Business School, in Cassel, Cunliffe & Grandy (eds) (٢٠١٨), https://core.ac.uk/download/pdf/١٤٦٥٠٤٤٢٨.pdf, Acc date: ٢٥ November ٢٠٢٣

(٤) Maryanne Cline Horowitz (Editor in Chief), Pragmatism, in New Dictionary of the History of Ideas, Volume ١, Charles Scribner`s Sons, Thomson Gale, United State of America, ISBN No. ٠-٦٨٤-٣١٤٥٢-٥, ٢٠٠٥, p.١٨٨٣

(٥) Charles Sanders Peircs, How to Make Our Ideas Clear, in Popular Science Monthly, Volume: ١٢, ١٨٧٨, p.٣٠٢

(٦) Maryanne Cline Horowitz (Editor in Chief), Pragmatism, in New Dictionary of the History of Ideas, Volume ١, Charles Scribner`s Sons, Thomson Gale, United State of America, ISBN No. ٠-٦٨٤-٣١٤٥٢-٥, ٢٠٠٥ p.١٧٦٤

(۷) راؤ محمد خالد، حقیقت پسندی اور عملیت پسندی، مشمولہ روزنامہ پاکستان، ۲ ستمبر ۲۰۱۲، dailypakistan.com.pk، تاریخ تلاش:۲۵نومبر۲۰۲۳

(۸)ڈاکٹر مبارک علی، تاریخ اور فلسفہ تاریخ، لاہور، تاریخ پبلیکیشنز، چھٹا ایڈیشن، ۲۰۱۷، ص:۸۹

(۹) خوښکي، پرويز مهجور، ډاکتر، پروفېسر، واصل روښاني (ژوند، فکر او فن)، مقدمه، د واصل روښاني ديوان، څېړنه: پروفېسر ډاکتر پرويز مهجور خوښکي، کوټه، پښتو اکېډمي بلوچستان، اکتوبر ۲۰۲۰، مخ۹.

(۱۰) جاوېد احساس، سرچينه، بنو، معيار ادبي جرګه /تنقيدي ټولنه، اول ځل ۲۰۱۰، مخ:۲۲۸

(١١) Thomas Henry Huxley, Agnosticism in Christianity, in Collected Essays: Volume ٥, New York, D. Appleton And Company, ١٩٠٢, p.٣١٠

(١٢) Michael Quinn Patton, Qualitative Research, in Encyclopedia of Statistics in Behavioral Science (Editors in chief Brian Everitt and David Howell), p.١٥٣, Published: ١٥ October ٢٠٠٥, Available on Wiley Online Library ISBN: ٩٧٨٠٤٧٠٨٦٠٨٠٩, Acc Date: ٠٨/١٢/٢٠٢٣

(۱۳) نظریات کی تاریخ، ص:۲۰۰